**<u>مطبوعاتي اعلامیه</u>**

# د خلافت د راپرځېدو په پېړۍ کې، حزب التحریر د خلافت بیا تاسیس لپاره د امت چمتو کېدو په هڅه کې دی

حزب التحریر، د ۱۴۴۲ هـ.ق کال، د رجب په ۱، چې د ۲۰۲۱م کال، د فبرورۍ له ۱۳مې، سره سمون خوري، د خلافت د راپرځېدلو له درد ځخه ډکې کلیزې په مناسبت، «**د خلافت له راپرځېدو یوه پېړۍ وروسته... اې مسلمانانو، خلافت بیا تاسیس کړئ!**» تر سرلیک لاندې یو کمپاین پیل کړی دی، چې د نبوت پر منهج د راشده خلافت د بیا تاسیس لپاره خلک راټولوي؛ ځکه چې دا د الله سبحانه و تعالی ژمنه او د رسول الله صلی الله علیه وسلم زیری دی، چې په دې کې زموږ د امت بقا ده.

له همدې امله، لکه څنګه چې حزب التحریر ـ ولایه تونس د دې لوی کار ملاتړ کوي، دا تمه لري چې الله سبحانه وتعالی د تونس خلکو ته دا وس ورکړي چې پاڅون وکړي او دا به د خلافت هسته وي. ځواک او وقار به یې په سیمه کې له خپلې طبیعي پراختیا سره یو ځای کېږي او یوازې پر شرعي حاکمیت او واکمنۍ به تکیه کوي، څو پر ځمکه عدالت تثبیت کړي.

موږ د حزب التحریر ـ ولایه تونس په مطبوعاتي دفتر کې، د الخدرا له خلکو، په ځانګړي ډول د قدرت له څښتنانو او اشرافو څخه غواړو چې له حزب سره د نبوت پر منهج د راشده خلافت د بیا تاسیس لپاره کار وکړي. موږ پر رسنیو غږ کوو چې د دغه کمپاین په پوښښ کې له موږ سره مرسته وکړي او د خلافت په تاسیس کې ځان شریک کړي.

موږ د الله سبحانه و تعالی دربار ته لاسونه لپه کوو چې په خپل قوي تقدیر موږ ته بریا راپه برخه کړي، څو موږ د خلافت بیرغ پورته کړو او امت سره یو موټی کړو.

**[الَّذِينَ إِنْ مَكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الْأُمُورِ]** [حج: ۴۱]

**ژباړه:** *«دا هغه کسان دي چې که موږ دوی ته په ځمکه کې قدرت ورکړو، نو لمونځ به قایم کړي، زکات به ورکړي، په ښو چارو به امر وکړي او له بدیو څخه به منع وکړي او د ټولو چارو خاتمه د الله سبحانه و تعالی په لاس کې دی.»*

#أقيموا_الخلافة

#ReturnTheKhilafah

#YenidenHilafet

#خلافت_بیا_تاسیس_کړئ

**د حزب التحرير۔ ولايه تونس مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۲ هـ.ق کال، د رجب ۱**

**۲۰۲۱م کال، د فبروري ۱۳مه**

**د صدور ګڼه: ۲۸/ ۱۴۴۲**